ان الله لا یغیر ما بقوم حتی یغیرو ما بانفسهم
الایه
صدق الله العظیم

په تحقیق سره لوی خدای جل جلاله یوه قوم کې تغیر نه راولي تر څو دوی په خپلو ځانو کې د تغیر اراده ونکړي

بسم الله الرحمن الرحیم
الله اکبر

# افغان ملت

ملي جریده

افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند

Afghanistan Social Democratic Party

د افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند خپرونکي ارګان

د افغان ملت غږ !

مونږ په خپل تاریخي هیواد کې د یو ملي، خپلواک، بې طرفه، په خپلو پښو ولاړ او سرلوړي افغانستان غوښتونکي یو

Publication of the Afghanistan Social Democratic Party- April 2013 | د دریمي دوری ۲ مه ګڼه | د ۲۰۱۳ میلادي کال د اپریل میاشت | د۱۳۹۲ لمریز کال د غويي میاشت

## د بګرام زندان افغان حکومت ته وسپارل شو د ملي حاکمیت په لور غټ ګام

د بګرام زندان بالاخره افغان حکومت ته په رسمي توګه د روان لمریز کال د وري په **۵** مه د خاصو مراسمو په ترځ کې تسلیم کړای شو چې د ملي حاکمیت په لور مهم ګام دی. په همدې ورځ ولسمشر حامد کرزي په یو خبري کنفرانس کې افغاني چارواکو ته د بګرام زندان په اړه د کامیابو مذاکراتو له کبله د انتقال کمیسیون د مشر ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمد زي او د ملي دفاع وزیر ښاغلي ستر جنرال بسم الله خان نه خاصه مننه اوکړه.

بګرام زندان د افغانستان او امریکا په اړیکو کې یوه ستونزمنه موضوع وه او حتی دا وېره هم موجوده وه چې دا لانجه د کابل او واشنګټن ستراتیژیک تړون له ګواښ سره مخامخ کړي. نوموړی محبس، چې په افغانستان کې د امریکایانو په کنټرول کې یوازینی زندان و، امریکا یو کال پخوا د افغان حکومت سره د بګرام محبس د سپارلو ژمنه کړې وه. د موافقې پر اساس ټاکل شوې وه چې د تېر کال په سپتمبر کې دا محبس افغاني چارواکو ته وسپارل شي خو په ټاکلي وخت دا کار ونه شو، د سږ کال د جنورۍ په میاشت کې ولسمشر بارک اوباما په واشنګټن کې بیا ولسمشر کرزي ته د دغه محبس د سپارلو ژمنه وکړه او ولسمشر کرزي وویل چې کابل ته له ستنېدو سره سم به بګرام د افغانستان دولت ته وسپارل شي خو د دواړو خواوو ترمنځ پر ځینو مسایلو اختلاف سبب شو چې دا کار دوه میاشتې وځنډېږي خو بالا خره دیو لړ مذاکراتو نه وروسته د بګرام زندان د افغانستان حکومت ته وسپارل شو. (پاتې ۴ مخ)

## د فخر افغان باچا خان د عدم تشدد فلسفه او په پښتنو تحمیل شوې جګړه

انجینیر اجمل شمس

که د تیرو دریو لسیزو جګړو او بدبختیو ته زیرشو نو پوهیدي شو چې د پولې دواړو خواو پښتنو ته ئي زیات تاوان رسولي. دا صیح ده چې په مجموعي توګه ټول افغانان د ثورد کودتا نه تر دې دمه په یو یا بل شکل زوریدلي، کړیدلي او راز راز کورنیو، اقتصادي، اجتماعي او سیاسي ستونزو سره مخامخ شوي خو زیات اغیزمن شوي بیا هم پښتانه دي. د شورې اتحاد سره د افغانانو د جهاد پر محال نږدې یو نیم میلون افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ چې زیاته برخه ئي پښتانه تشکیلوي. د ډاکتر نجیب د سقوط نه وروسته چې د مجاهدینو دوره پیل شوه نو هم زیات مرګ او ژوبله د پښتون میشتو سیمو ته ورسیده. همدا شان د کمونیست رژیم د استخباراتي شبکو لخوا چې په پښتونخوا کې کوم تخریبات کیدل نو زیات قربانیان ئې پښتانه وو. (پاتې ۴ مخ)

## دافغان ملت ملي مترقي ګوند یو پلاوي د پښتونخوا مبارز سیاسي مشر افضل خان لالا سره وکتل



د افغان ملت ملي مترقي ګوند پلاوی (انجینیراجمل شمس، میرزمان جبارخیل او زردشت شمس د افضل خان لالا سره) سوات – جنوري ۲۰۱۳ میلادی کال

دافغان ملت ملي مترقي ګوند یو پلاوي د انجینیر اجمل شمس په مشرۍ د پښتونخوا دمبارزسیاسی مشر او دافغان ملت مترقی ګوند د ډیر نږدې او محترم ملګري محمد افضل خان لالا سره دده په کور کی لیدنه وکړه. څه موده وړاندې محمد افضل خان لالا افغان ملت ملي مترقي ګوند ته بلنه ورکړې وه تر څو د افغانستان او د پښتنو دسیاسی سرنوشت په اړه خپل نظریات ورسره شریک کړي. (پاتې ۴ مخ)

## د افغان ملت ګوند مبارز او سابقه دار غړی محمد غلام قلمیار په حق ورسید

د افغان ملت ملي مترقي ګوند مبارز او سابقه دار غړی محمد غلام قلمیارد روان لمریز ۱۳۹۱ کال د کب په ۸ مه په ناځاپي توګه د فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې. انا لله و انا الیه راجعون. مرحوم محمد غلام په ۱۳۳۲ لمریز کال کې د ننګرهار ولایت په ثمرخیلو کې زیږیدلی او خپل ابتدایي زدکړې یې هم هلته تر سره کړې وې وروسته بیا د ننګرهار لیسې نه فارغ شوی وو. د مزار شریف د تخنیکي انستیتیوت نه یې هم سند تر لاسه کړی وو.



د ځلمیتوب نه یې د ګوند سره علایق پیدا کړي وو او د مرګ تر سلګۍ پورې یې د ډیر سختو اقتصادي فشارونو با وجود خپله ګوندي مبارزه پر مخ بیوله. د اوښناد شمس الهدا شمس د نږدې ملګرو څخه وو. د ګوند ټول غړي د مرحوم غلام مړینه غټه ضایعه بولي. خدای دې ورته مغفرت او جنت فردوس ور په برخه کړي.

# سرلیکنه

زموږ ګران هیواد یو ځل بیا د خپل تاریخ په یو حساس پړاو کې قرار لري . دنړیوالو نظامي ځواکونو په شتون لس کاله واوړیدل . د دي وخت راغلی چې افغاني پوهان اوعام ولس تیرو لسوکلو ته یوځغلنده نظر واچوي چې د کوم ځای نه موپیل وکړ ، چیرته ورسیدو او بالاخره کومې خوا ته روان یو . اوس باید د تیرو کلونو لاسته راوړنواوهم تیروتنو او نیمګړتیاوو ته متوجه شو تر څو دراتلونکي لپاره یوه ازموینه شي.

دي کې هیڅ نشته چې د تیرو لسو کلونو په ناخوالو کې په مجموعي ډول دافغانستان دولت ، حکومت او ټولنه په خپل خپل ځای کې د ملامتی مسؤلیت په غاړه لري خو باید هیر نکړو چې نړیواله ټولنه هم راسره پوره شریکه ده . د طالبانو د حکومت دسقوط نه وروسته چې په بن کې د افغانستان د راتلونکي سیاسي چلند ، اداري او نظام د جوړښت لپاره کومه طرح د نړیوالي ټولنې لخوا په افغانانو تحمیل شوه هغه ناقصه وه ځکه خو ئی په کافی اندازه مثبته نتیجه ورنکړه . دې کې شک نشته چې د هیواد په بیلابیلو برخو کې زیربنایي پروژې لکه سرکونه ، پلونه او د ښوونې په برخه کې کافي مکتبونه جوړشوي دي چې یو طرف ته یې ولس ته په ورځني او اجتماعي ژوند کې اسانتیاوې برابرې کړي او بل طرف ته یې په وړه کچه د خلکو اقتصاد ته تقویت ورکړی خو هغه څه چې تر اوسه مولاس ته ندي راوړي هغه دادي چې تر اوسه د یو داسی قوي سیاسي نظام خاوندان نشولو چې په اجتماعی عدالت او واقعي دیموکراسۍ ولاړ وي چې اساس یې د اسلام مبارک دین او اصیل افغاني کلتور وي.

اوس چې د نړیوالو نظامي ځواکونو د وتلو لړۍ روانه ده نو د هر افغان په ژبه د ۲۰۱۴ سوال دی . دا هغه تشویش دی چې ټول هیوادوال یې په یو یا بل ډول محسوسوی چې آیا د ۲۰۱۴ میلادي کال نه ورسته به افغانستان وکولی شي چې د خپل امنیت چارې د نړیوالو ځواکونود مرستې نه پرته په خپله پر مخ بوځي او آیا زموږ ملي اقتصاد به وکولی شي چې موږ بې د نړیوالو د مرستو نه دهوسا ینې پر مخ بوځي .

پدې هکله ولسمشر کرزي په وار وار ولس ته په ډاګه کړې چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو دا ظرفیت پیدا کړی چې د ۲۰۱۴ م نه وروسته د خپلو سرحدونو دفاع اوکړي او زموږ طبعي زیرمې کولی شی زموږ ملی اقتصاد په کافی توګه حمایه کړی تر څو موږ د خارجی هیوادونو د انحصار نه ووځو او په خپل ځان متکی شو . د ولسشمر داسی څرګندونی په خپل ځای صیح دي او د یو هیواد ولسمشر باید په داسی شیبوکی دیو واقعی رهبر په صفت باید دولس مورال لوړ وساتی خو باید هیر نکړو چې زموږ په ملکي اداره کې اساسي ستونزې لا تر اوسه ندي حل شوي . همدی ستونزو په هیواد کې د اقتصادي تحول مخه نیولې.

که په واقعي ډول غواړو دخارجیانو د وتلو نه وروسته د لوی خدای په توکل په خپل ځان متکي هیواد شو نو باید د یو سالم سیاسي او اقتصادی نظام د بنسټ کیښودلو لپاره هلې ځلې پیل کړو او د هیواد داخلي او خارجه پالیسي باید داسې عیاره کړو تر څو زموږ ملي ګټې په صحیح توګه تمثیل شي.

# تعلیمي موسسات او سیاسي مسؤلیت

ولی حداد فرهاد

تعلیمي موسسات د یو هیواد د قوت بنسټ تشکیلوي. که چیري اساس سالم وي نو هیواد به په صحیح مسیرحرکت کوي . که چیرې د تعلیمي موسساتو نه د سیاست ډګرجوړشي نو بیا د متعلمینو او محصلینو ترمنځ د ډیر کم عمر نه د اختلافاتو پیل کیږي او همداسې دوام پیدا کوي. د اعلیحضرت ظاهرشاه او د شهید داود خان د حکومتونو په دوران کې په کابل پوهنتون کی یو څه رقابتونه پیل شول چی بیا یې د جهاد ترمهاله دوام درلود او لا تر اوسه یې تاثیرات لیدل کیږي.

همدا سیاسي مخالفتونه وو چی کورنۍ جګړې یې وزیږولې او بهرنۍ لاس وهنې پیل شوې. د سیاسي ګروپونو تر منځ رقابتونه کله داسې مرحلې ته ورسیدل چې دوی مسلح کړای شول . پداسې شرایطو کې آیا ممکنه ده درس وویل شي ؟ په مکتبونو او پوهنتونونو کې متعلمین،محصلین او استادان باید ټوله توجه یواځې ښوونې ته ورکړي چی شاګردانوته یوه روښانه آینده ور په برخه شي . د دې په خوا کې باید سپورتي اسانتیاوو ، څیړنیزو مراکزو، سیمینارونو او کنفرانسونو ته توجه وشي چې د شاګردانو علمي سویه لوړه شي نه داچې یو ګروپ د بل ګروپ پرضد و هڅول شي چی په مظاهرو کې ګډون وکړي. څه موده وړاندې په کابل پوهنتون کی د مظاهرو له کبله یو شاګرد خپل ژوند له لاسه ورکړ او نور ډیر شاګردان پکی ټپیان شول. باید داسی پیښه هیڅ منځ ته نه وی راغلې .هیڅ سیاسی اختلاف د یو ژوند نه لوړ نه دی.

دا د دولتي چارواکو او هم د پوهنتون د مسؤلینو دنده ده چې په پوهنتون کې داسې منفی سیاسي فعالیتونو ته چی تشدد نه پکې کاراخیستل کیږي اجازه ورنکړی. طبعي ده چې ځوانان احساساتي او باانرژي وي نو ولې د دوی د انرژۍ نه مثبته استفاده ونشي . ځوانان تل دیوهیواد آینده تشکیلوي او زموږ هیلې چی هیواد به یوې صیح خوا ته رهبری شي اومسیربه ورکړل شي د ځوانانو پورې تړلې دي.کله چی د ځوانانو ترمنځ دا رنګ درزونه پیداشي نو بیا ټول ملت خپلې هیلې دلاسه ورکوي . پدې واقعیت خو ټول او په خاص ډول تعلیم یافته طبقه ښه پوهیږي چې د بې اتفاقۍ نه مو اتفاق او بې سوادۍ نه مو سواد بهتر دی خوبیا دا پوښتنه پیداکیږي چې وربانديې پوهیږوهم نوبیا ولې ور باندې عمل نه کوو او منفی جهت نیسو.

افغانستان یواځینی هیواد نه دی چیرته چې د یو نه زیات قومونه ژوند کوي .د نړۍ ډیر هیوادونه شته چې هلته د مختلفو قومونو او مذاهبو خلک په سوله ایزه توګه ژوندکوي او غته وجه یې دا ده چې پداسې هیوادونو کې عدالت وجود لري هغه څه چې موږ ورته ډیره اړتیالرو.

د افغانستان ملت باید دا انتخاب له ځان سره اوکړي چې د احساساتو پر اساس فکر کوي او که د حقایقو او واقعیتونو پر اساس .افغانستان او نړۍ باید پدې پوه اوسي اودا یو روښانه حقیقت دی چې پښتانه په افغانستان کې یو اکثریت دي او د دوی حقوق په سیاسي ، اقتصادي او فرهنګې لحاظ غصب شوي دي اوپه خاص ډول د تعلیم په ډګر کې.
د هیواد په جنوبي او ختیزو سیمو کی دامنیت د نشتوالي له کبله او د هیواد په پرامنه سیموکې دبې عدالتۍ له کبله په پښتنو کې د بې ثباتۍ او ناارامۍ یوه فضا وجود لري چی احتمال لری نوره هم خرابه شی.
دا هم یو واقعیت دی چی چون پښتانه یواکثریت دي نوکله چې د هیواد اکثریت ته اساسي ستونزی متوجه شی نودا بیا بی امنیتی اوبی ثباتی زیږوی. د بی ثباتۍ او نا امنۍ په حالت کې موږ نشوکولای چې په اوږد مهال کی هیڅ هم ترلاسه کړو . یواځې په فاریاب ولایت کی ۱۷۰۰۰ کورنۍ پښتانه د خپلو کورونو نه په زور وویستل شول چې اوس په خیموکې اوڅه ئې په کابل او دهیواد په نورو برخو کې ژوندکوي. همدا شان هلمند او کندهار ته هم په زرهاوو کورونه راغلي چې نه تعلیم ته لاسرسی لری او نه کوم کار او روزګار یعنی په خپل هیواد کې کډوال دي.
د یو ملت په صفت راځۍ چې هرکوچني ته وښایو چې افغانستان یو واحد ملت دی او په سوله ایزه توګه ټول ورونه قومونه بایددلته په عزت او آبرو کې ژوندوکړی.

# دبشیراحمد بلور شهادت

دعوامي نشنل ګوند مهم مشر او د پښتونخوا ایالت ستر وزیر بشیراحمد بلور د ۲۰۱۲ میلادي کال د دسمبر په ۲۲ مه په شهادت ورسید. د شهید بلور مړینه د لر او بر پښتنو لپاره ستره او نه جبران کیدونکې ضایعه وه . بشیراحمد بلور شهید په کلونو کلونو د خپل ولس په خدمت کې تیر کړ او په ډیره میړانه یې د پښتو ، پښتونولۍ او دفخر افغان باچاخان د عدم تشدد د فلسفې د تحقق لپاره د عوامي نشنل ګوند د سنګر نه مبارزه کوله چې بالاخره یې د خپل ځان نذرانه هم وړاندې کړه. (انالله و انا الیه راجعون).
بشیراحمد بلور د ډیرو ښو صفاتو خاوند ، ریښتونی مسلمان او پښتون او د خپلو خلکو مخلص خدمتګار وو او په سیاست کې پیاوړی وو. په وار وار یې د خپل ولس نه د اعتماد د رای په اخستلو په ولایتي اسمبلۍ کې د خپل ولس نمایندګي کړې وه او همدا راز یې د صوبایي وزیر په صفت هم د خپل ولس ډیر خدمت ترسره کړی دی. د شهید بشیراحمد بلور کورنۍ او په خاصه توګه د دوی مشر ورور ښاغلي غلام احمد بلور د افغان ملت ملي مترقي ګوند او خدای بښلي شمس الهدا شمس سره نږدې اړیکې درلودې. د افغان ملت ملي مترقي ګوند دعوامي نشنل ګوند د مشر ښاغلي اسفندیارولي خان ، د شهید بشیراحمد بلور مشرانو ورورنو ښاغلو غلام احمد بلور او الیاس بلور ، د دوی ځامنو ښاغلوهارون بلور او عثمان بلور او دکورنې ټولو غړو ته د غمرازۍ او تسلیت مراتب وړاندې کوي ، شهید بلور ته جنت فردوس اود کورنۍ غړو ته د صبر جمیل دعا کوي.

# د ارواښاد غلام محمد زرملوال په یاد

میرزمان جبارخیل



چي توکل یې د ایمان پوخ په خپل خدای (ج) وي
په خپل ژوند کي به کامیاب هغه سړی وي

لوی میراث د کتابونو یې را پرېښې
نوم یې نه مري (زرملوال) به پرې ژوندی وي

دشاهکارو، لیکوالانو دا سرخیل هم
د (حداد) او (شمس) په څېر به یو هم دی وي

آینده نسل پرې ویاړ او افتخار کړي
چي په مینه د هیواد څوک سپېڅلی وي

د دستار سړي په شمار وي خوشحال وايي
وي لایق د احترام که دا پردی وي

خپل ملي شعور یې داسي وو روزلی
چي رودلی چا د خپلي ابې تی وي

انساني شخصیت د ښه فکر مرهون وي
که دا نه وی په شخصیت کي لوی کمی وي

دملي فکر له زېرمې یې تراشلی
جوهر شناس ته قیمتي دغه کودی وي

دبینا او د ړانده فرق وي په څه کي؟
په کنجکو کي ترې ورک اصلي غمی وي

چي لیلا د خپل مجنون وروستی دیدار کړي
پاکي مینې کي به څنګه درغلی وي؟

اوس هغه لیچي د چا د سر بالښت شوي؟
ترېنه ورې یې له لیچو چا وښې وي؟

چي ملي غرور یې خاورو لاندې کېږي
مړ په دې ننګ د تاریخ یو مست زمری وي

جبار خیل لاس په دعا دی زرملوال ته
امید شته چي په جنت کي به یې ځی وي



# دا افغانستان مسله، څو وړاندیزونه

مولانا عبدالولی دودمل

د افغانستان د مسلې څه حل دی؟ دا هغه پوښتنه ده چي غواړم د خپل فهم مطابق یې د ځوابولو کوښښ وکړم پدې اړه لاندیني وړاندیزونه لرم:

د هر څه نه مخکي افغان دولت باید دافغان دیني علماوو یوه ستره او نماینده جرګه راوبلي. دافغانستان د ۳۴ ولایتونو نه دې د هر ولایت څخه دې لس، لس مستند او پاخه عالمان جرګې ته راوبلل شي چې د دیني علومو ماهرین او محققین وي. که د دولت ملاتړي وي او که نه فرق نه کوي. د جرګې په پیل کې دې اړونده ارګانونو مشران دوی ته په حقایقو ولاړ معلومات ورکړي. دبهرنیو چارو وزارت مسؤلین دې هم دغه ډول معلومات ورکړي. په دې معلوماتو کې دې په مجموعي ډول د افغانستان سره دګاونډیانو د مناسباتو څیرنه اوشي. چې زمونږ ګاونډیان د افغانستان په اړه څه اراده لري، کومې لاس وهنې کوي، په دې باره کې دوی ته جامع معلومات ورکړل شي.

دګاونډیانو نه علاوه دسیمې هیوادونه اونړیوال قدرتونه څه کول غواړي، دافغانستان په حقله د دوی څه ارادې او پلاونونه دي؟ د افغانستان ستراتیژیک موقعیت په اړه دې هم وویل شي. دا هر څه دې دوی ته په ډاګه کړای شي او له دې هر څه نه وروسته دې له دوی څخه دمسلې شرعي حیثیت اوشرعي حل وغوښتل شي اوپرې دې ښودل شي چې د روان جنګ په حقله یوې شرعي فتوې ته ورسي.

په دې کارسره به افغان علماء د خپل منځي اتفاق په نتیجه کې د یو دریځ د خپلولوګه شي. ترڅو چې افغان علماء په کور کې دننه یوې نتیجې ته نه وي رسېدلي د نورو هیوادونو علماوو سره تماسونه، غونډې او مباحثې دګټې پرځای تاوان رسوي. کله چې مونږ په خپل کورکې سره متفق اومتحد شولو نو بیا د نورو سره د خبرو او مناظرو جوګه کېږو او په ډېر مدلل انداز کې خپل دریځ وړاندې کولای شو. زما په اند دا کار ډېر اړین دی. که زمونږ علماوو ته حقائق څرګند کړای شي یقیناً د دین د احکامو په رڼا کې خپلو ملي او هیوادني منافعو ته متوجه کېدای شي.

کله چې صدام حسین په کویت حمله وکړه او اشغال یې کړ نو وریسې وار د سعودي عربستان وو. د عراق لخوا په سعودي د حملې امادګي روانه وه. د سعودي پادشاه ملک فهد بن عبدالعزیز دسعودي عرب د علماوو نه فتوی او مشوره وغوښته. هغوی ته یې وویل چې زمونږ ګاونډی هیواد عراق چې عرب هم دی او مسلمان هم، په مونږ حمله کول غواړي، زمونږ سره وسایل نشته ایا مونږ د خپل خفاظت لپاره د کوم بل هیواد څخه اګر که هغه مسلمان هیواد هم نه وي د مرستې غوښتنه کولای شو؟ هماغه وه چې د وخت د عالمانو شورا د شیخ عبدالعزیز بن باز د سعودی عرب ستر مفتي په مشرۍ بادشاه ته دجواز مدلل فتوی ورکړه چې په داسې حالاتو کې د مرستې غوښتنه جواز لري.

ددې تفصیل څخه مې مقصد دادی چې زمونږ تولنه یوه مذهبي تولنه ده خو د اسلام په هکله په کې نا پوهي او نا خبري هم ډېره ده. همدا لامل دی چې د هر تورپټکي یا سپین پټکي د دین مخالفه خبره هم د دین حکم ګڼل کیږي. نو باید دوی ته یوه داسې مرجع ور په ګوته کړای شي چې په دین واقعًا پوهه او د اوسني عصر او د سیمې د حالاتو نه با خبره وي چې په فتوی کې دغو تولو نکاتو ته کتل اړین دي.

د افغانستان رسنۍ باید خپل ځیني مسولیتونو ته متوجه شي، په دې سلسله کې دغه ټکي په پام کې نیول په کار دي:

- هغه مثبت پرمختګونه چې په افغانستان کې ترسره شوي، هغه دې ملت ته روښانه کړي او حتی د ګاونډیو هیوادونو خلکو ته دې هم دغه مثبت پرمختګو ته وښودل شي. په دې اړه په خارج کې دافغانستان سیاسي رسمي نمایندګیو ونده او زیار هم ضروري دی. دمثال په ډول د پوهنې بهیر، تعلیمي نصاب، ښوونځي، لیسې، پوهنتونونه،او دیني مدارس، ددغو په تشهیر کې دې کوښښ وشي، د تعلیمي نصاب دیني اړخ دې بیا بیا تکرار شي. او که ممکن وي د ګاونډیو هیوادونو د تعلیمي نصاب ددغو برخو موازنه او مقایسه دې هم وشي. یقیناً زمونږ تعلیمي نصاب د نورو په پرتله ډېر دیني دی.
- دمحاکمو د فیصلو بهیر دې نیغ په نیغه خلکو ته وښودل شي. دا سمه ده چې په محاکمو کې نقص شته خو نقص په افرادو کې دی په نظام کې نه دی. کله چې خلک په محاکمو کې ویني چې قاضي د ډېرو او پګړی ناست د خلکو قضیې هواروي، نو ډېر مثبت تاثیرکوي. خصوصًا برېښنایي او چاپي رسنۍ باید دې دې وړاندیز ته توجه وکړي. ممکن د ځیني خلکو په اند دا وړې او بې ګټې خبرې وي خو حقیقت دادی چې یو کوچنی تصویر هم ډېرغټ پیغام ورکوي.   (پاتې ۴ مخ)

## پاتې: بګرام زندان ....................

افغان ولسمشر ويلي چې په بګرام کې ډېر بېګناه کسان ساتل کېږي او بايد خوشي شي . افغان ولسمشر تر دې مخکې په يوه وينا کې ويلي وو چې په بګرام زندان کې ډير شمير بيګناه کسان ساتل کيږي: «کله چې د بګرام زندان انتقال تر سره شي په دغه زندانونو کي موږ پوهيږو چې ډير بي ګناه کسان بنديان دي. زه به له جنايت کارانو پرته د نورو ټولو د خلاصون حکم ورکړم خو هغه کسان به بنديان وي چې چاودني يې کړي وي، خلک يې وژلي وي او داسي نور جرمونه يې تر سره کړي وي»

په عين حال کې د امنيتي مسوليتونو د انتقال د کميسيون مشر ډاکټر اشرف غني احمدزي وويل چې د بګرام زندان د مسووليت ترلاسه کول د ولسمشر کرزي له اساسي غوښتنو او د افغانستان لپاره ډيره مهمه مسله ده. ډاکټر احمدزي څرګنده کړه چې افغانستان د امريکا په ګډون له هرهيواد سره د يوه خپلواک او ملي حاکميت لرونکي هيواد په توګه معامله او خبرې کوي: "د بګرام زندان د مسووليتونو له انتقال سره امريکايي چارواکو زمونږ د قانون حاکميت منلی چې دا زمونږ د راتلونکو لسو کلونو يعنی د بدلون د لسيزې د ټينګ بنسټ نښه ده. "

## پاتې: د افغانستان مسله ........................

- د افغانستان په اړه ډير ځلې داسې پوښتنې هم کېږي چې ايا اوس خلک په افغانستان کې لمونځ کوي؟ ښځې پرده کوي؟ دا هم ويل کيږي چې د افغانستان مروجې پيسې اوس ډالر دي .پروپاګنددومره تاثيرکړی چې ګمان کېږي چې افغانستان اوس بخپې کافر شوی دی . همدارنګ حکومت بايد د ګاونډيو هېوادونو د ژورناليستانو او اديبانو سره ژورې اړيکې وساتي.
- د افغانستان ملي اردو او ملي پوليس دې په ټولو اړينو وسايلو سنبال شي او دهغوی دې داسې ذهني تربيت وشي چې د هېواد د دفاع په لارکې سربښندنه ورته بې له کوم شکه شهادت او ويارښکاره شي ،هغوی ته دې تعليم ورکړی شي چې ددې وطن او ملت دفاع ستاسو ديني او ملي فريضه ده او په دې لار کې مرګ يقينًا شهادت دی . که کوم عسکر يا پوليس ټپي ، معيوب يا شهيد کېږي بايد د هغه او د هغه کورنۍ سره مالي مرسته وشی او افتخارات دې ورته ورکړل شي خو په ټولنه کې ذهني تربيت ډير اړين دي.
- کوم کسان چې د مخالفينو د ليکو څخه را جلا کېږي ،ددغو کسانو ژوند ،عزت او هر څه بايد محفوظ وي ،دې ته جدي پاملرنه په کارده.
- په ټولنه کې دي اجتماعي عدالت تامين شي او د افغانستان ټولو قومونو ته دې د هغوی حقوق ورکړل شي، هيڅ يو قوم دې د ثابتو حقوقو څخه محروم ونه ساتل شي د اجتماعي عدالت تامينيدل د جنګونو د ختمېدو سترلامل کيدای شي.
- په پاکستان او ايران کې مېشت افغان کډوال بايد ژر تر ژره هېواد ته راوستل شي.
- کومې خارجي قواوې چې د توافق پر اساس پاتې کېږي بايد د افغانستان د قانون او د ملي حاکميت پر بنسټ دا کاروشي.
- عادلانه انتخابات

راتلونکې ولسمشريزې او نورې ټولټاکنې دې عادلانه او شفافې وي اوټولو خلکو ته دې په کې د ګډون زمينه ساعده کړای شي.

## پاتې: د باچا خان د عدم تشدد فلسفه ................

کله چې طالبان قدرت ته ورسيدل او دا چې د دوی اکثريت پښتانه وونو په نړيواله کچه د پښتنو پر ضد منفی تبليغات پيل شول . پښتانه يکی داسی معرفی کړای شول چې دوی د علم،فرهنګ او تمدن پر ضد دي او يواځې په افراطيت او تشدد عقيده لري او هيڅ منطق نه منی. هرهغه عمل چې د طالبانو لخوا ترسره کيده هغه به د پښتنو پوری منسوبيده . متاسفانه دا لړۍ اوس هم دوام لري.خو حقيقت دادی چې طالبانو قومي چلند ندی کړی  بلکه دخپل واکمنتوب په دوران کې يې دپښتون او غير پښتون سره يو شان سلوک درلود . د يادونې وړ ده چې په طالبانو کې د بدخشان ولايت اوسيدونکو فعال غړيتوب او نقش درلود او ځينې ئې په لوړو چوکيو هم ناست وو.

د انګريزي استعمار پر ضد د فخر افغان باچاخان  هراړخيزه مبارزه د هيچا نه پټه نده. هغه د نن نه نږدې سل کاله وړاندې د عدم تشدد د فلسفې پر بنسټ په پښتنو غږ کړی وو تر څو د خپلو حقوقو لپاره په سوله ايزه توګه سياسي مبارزه وکړي. په دی مبارزه کې هغه په زرګونو پښتانه په خپل غورځنګ کې له ځان سره ملګری کړل او پخپله باچا خان او دده ملګرو کلونه کلونه  زندانونه او ضلمونه وګالل اوشکنجې يې تيری کړی.که چيرې پښتنو طبيعتًا د سياسی مبارزې لپاره يواځی په تشدد عقيده درلودی نو بيا ولی د باچاخان په اواز پورته کيدل او دده سره ملګری کيدل. د باچاخان تر رهبرۍ لاندې د پښتنو سياسی او صلح اميزه مبارزه دا په ثبوت رسوي چې پښتانه د ديموکراتيک فکر خاوندان دی . دوی خپلې ستونزې هم په خپل منځ کې او هم د نورو سره په جرګو او مرکو هواروی.خو کله چې د جنګ ځای راشي نو بيا د هيڅ راز قربانۍ نه هم دريغ نه کوی.

که يوطرف ته د تاريخ پاڼې د پښتنود تورې ، غيرت او ميړانې نه ډکې دي نو بل طرف ته پښتانه د علم ، تمدن او فرهنګ پنځه زره کلن تاريخ وارثين هم دي. راځۍ چې د پښتنو د مشاهيرو نه يواځې د خوشحال خان خټک ژوند او شخصيت ته وګورو چې هم د تورې او هم د قلم خاوند وو . که يو طرف ته دپښتنو دحقوقو لپاره د مغلو سره په ميړانه جنګيده نو بل طرف ته يې دقلم په ميدان کې هم ثاني نه درلود چې حتی علام اقبال هم د هغه د شاعرۍ نه متاثر وو .

دا چې طالبان د سقوط نه وروسته په تدريجی توګه بيا راژوندي شول نو د دې تر شا ډير داخلي او خارجي عوامل دي . نه دا چې دا جګړه پښتنو روانه کړې .بلکه دا جګړه په پښتنو تحميل شوې او ددی جګړې  قربانيان هم پښتانه دي . خارجي رسنۍ په افغانستان کې د طالبانو پاڅون (Taliban Insurgency) ځينې وخت د پښتنو پاڅون (Pashtun Insurgency ) په نوم يادوي چې دا په نړيواله کچه د پښتنو په اړه منفي ذهنيت پيداکوي . واقعيت دادی چې روانه جګړه په منطقوي او نړيوله سطح د هغه سياسي او اقتصادي رقابتونو توليد دی چې د افغانستان جيوستراتيژيک موقعيت ورته زمينه مساعده کړې . بل طرف ته د پښتنو سياسي رهبري د يو انتشار ښکار ده .دا اوس د پښتنو د سياسي قشر پورې اړه لری چې څرنګه کولی شي نړيوال پدې  قانع کړي چې پښتانه په دين اووطن مېين ، صلح دوسته او جمهوريت خوښونکی خلک دی. غواړي چې هم په خپل هيواد کې د نورو قومونو سره او هم د نړيوالې ټولنې سره د متقابل احترام پر بنسټ ژوند اوکړی . خو بايد د افغانستان په داخل کې نور ورونه قومونه ، د منطقې هيوادونه او هم نړيواله ټولنه پدې واقعيت ځان پوه کړی چې تر څو پښتنو ته خپل جايز سياسی ، اقتصادی او فرهنګی حقوق نه وي ورکړل شوي نو نه يواځې دا چې په افغانستان بلکه په سيمه کې به نا قراري او بې ثباتي وي چې تاثيرات به ئې غربي نړۍ ته هم رسيږی .داسې حالت د هيچا په ګټه نه دی.

بل طرف ته پښتانه هم د يو فرد نه واخله تر ديني عالم ، روشن فکر او سياسي مشرتابه پورې بايد د اسلام ، افغانيت او پښتنولی په چوکاټ کی د خپل سياسی سرنوشت په اړه د قيق فکر وکړی .

## پاتې: افضل خان لالا سره ملاقات ....................

افضل خان لالا دافغان ملت ملي مترقي ګوند پلاوي سره د ملاقات په دوران کی دافغانستان په حالاتو،او په خاص ډول دپښتنو د سرنوشت په اړه چی درااز راز ګواښونو سره مخامخ دي مفصلې خبرې وکړې او په ډاګه ئی وويل چې دپولې نه دواړوخواوو ته پراته پښتانه ديوغټ سازش ښکار دي او اړينه ده چی په شريکه ئې مخنيوی وشي . خان لالا وويل چی ټول پښتانه ديونيکه اولاد دي اوهيڅ طاقت دوی نشي بيلولی.

دګوند مشر انجينيراجمل شمس او دپلاوي غړو خان لالا ته د دوی دخدمتونو په اړه دوی ته د عقيدت پيرزونې وړاندی کړی او په خاص ډول ئی دپښتون قامي وحدت لپاره ددوی د نه ستړي کيدونکو هلوځلو ستاينه وکړه . همدا راز د ګوند پلاوي خان لالا سره د افغانستان په روانو سياسي حالاتو مفصلې خبرې وکړې .

خان لالا د سيمې ، افغانستان او په خاص ډول د پښتون قام د سياست په اړه اوږدې او مفصلی خبرې ، او علمی او فلسفی بحث وکړ او وئی ويل چی دپښتنو د ډيرو ستونزو څخه يوه غټه ستونزه د دوی کم علمي ده چې دوی هميشه دعلم ، تعليم او تربيت نه په قصدي ډول ليرې ساتل شوي دي پداسې حال کې چې د دنيا نور قامونه د ترقۍ او پرمختګ په لور روان دي.

خان لالا تاکيد وکړ چی پښتانه بايد خپلې اړيکې قطع نه کړي او دا ئی هم وويل چی ولسمشر کرزي د افغانانو او پښتنو د اتحاد او يووالي لپاره وخت په وخت له دوی سره رابطه ټينګه ساتلې ده.

خان لالا په سوات کی د ولس سره د شوي ظلمونو يادونه هم اوکړه. او ويې ويل چی د سوات خلکو د ظلم او تشدد په مقابل کی نه ستړې کيدونکې مبارزه اوکړه . د يادونی وړ ده چې دوه کاله وړاندې په خان لالا باندی قاتلانه حمله وشوه چې په نتيجه کی يې دده د کورنۍ غړي هم شهيدان شول او دی پکی ټپي شو خو بيا ئی هم ميدان پرينښود او په نره ئی د حالاتو مقابله وکړه.

خان لالا د افغان ملت پلاوي ته خپل يو څو کتابونه ډالۍ کړل چی د پښتون قامی وحدت په اړه ئی تصنيف کړی دي. خان لالا په ټولو پښتنو غږ وکړ چی د خپل نجات لپاره لاسونه سره يوکړي او خپل دوست او دښمن وپيژنی. په اخره کی خان لالا دافغان ملت ګوند مرحوم مشر شمس الهدا شمس په اړه خپل تاثرات د ګوند پلاوي ته د کتاب لپاره وړاندی کړل. خان لالا د افغان ملت ملي مترقي ګوند لاربښود اروابناد قدرت الله حداد د مړينی په اړه هم د زړه له کومی خپله غمرازی څرګنده کړه .


## د افغان ملت ملي جريده

د تاسيس نيټه:   ۱۳۴۵المريزکال
د ګوند موسس:   ديپلوم انجينيرغلام محمد فرهاد
د ګوند رييس:   ديپلوم انجينيراجمل شمس
عمومي منشي:   وصلي خان ملاخيل
د امتياز خاوند:   د افغان ملت ملي مترقي ګوند
چلوونکی:   فرهنګي کميټه
د ټيليفون شميره:   ۰۷۹۵۹۵۹۴۹۳
د پوستې ادرس:   پست بکس ۵۵۹۵ کابل افغانستان

**Afghanistan Social Democratic Party**
Founded by: Eng. Ghulam Mohammad Farhad (1966)
President: Eng. Ajmal Shams
Postal address: PO Box 5595, Kabul, Afghanistan
Tel: +93 (0) 795-959-493
E-mail: afghanmillat@afghanmillat.org
Website: www.afghanmillat.org